

# په لړزانده او ستونزمنو شرایطو کې

کوویډ ۱۹ او د تلپاتې سولې لپاره، د افغانستان ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ظرفیتونه

سید پرتو او لوسیل مارتین

د کوویډ ۱۹ ویروس په افغانستان کې د دوامدارو سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او چاپېریالي ناورینونو سره هممهاله رامنځته شو. افغانستان اوسمهال، لړزانده حکومتولۍ او اقتصادي - ټولنیز جوړښتونه تجربه کوي، او دغه چاره، د جګړې او د بین الافغاني سولې خبرو نوې لړۍ ډینامیکې اغېزې، په اړه یو لړ پوښتنې رامنځته کوي.

له طالبانو سره د خبرو اترو په حال کې د سولې پروسې پایښت، د هغو شرایطو د رامنځته کېدو په برخه کې د بریا او نه بریا تابع ده، چې پر اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي جوړښتونو او ادارو باور او اعتماد بېرته راژوندی کړي او د جګړې د دوام انګېزې له منځه یوسي. همدارنګه د تلپاتې سولې لپاره د شرایطو رامنځته کول، د دې غوښتونکی دی، چې د جګړو جرړ او مېراث ته رسېدنه وشي، چې دا ټول د کویډ ۱۹ ویروس د خپرېدو له امله ډېر شوي دي؛ او همدارنګه د ټولو وګړو د حقونو، اړتیاوو او ټولنیزو لومړیتوبونو لپاره یو اوږدمهال لېدلوری هم دی.

له داخلي پلوه، کوویډ ۱۹، جوړښتیزې نابرابرۍ او د حکومتولي نیمګړتیاوې جوته او پیاوړې کړي دي. له بهرني پلوه، دغه چاره، د مرستو د ترلاسه کوونکو هېوادونو لپاره لکه افغانستان د نړیوالو مرستو د څرنګوالي په اړه د ناډاډمنتیا د رامنځته کېدو لامل شوې ده.

په ټوله کې، د دغه ویروس کورنۍ او بهرنۍ اغېزې او پایلې، د حکومتولي د اجرااتو له اړخه، د افغانانو او نړیوالو مرستندویو ادارو د زیانمنتیا، ناامنۍ او ناهیلۍ کچه زیاته کړې ده. شته شرایط په دې اړه مهمې پوښتنې مطرح کړي چې له طالبانو سره د سولې په توافق سره یا له هغه پرته، له افغانستان سره څرنګه او د کومو شرایطو په چوکاټ کې باید مرسته وشي.

هغه نوي شرایط، چې د کوویډ ۱۹ ویروس په پایله کې رامنځته شوي، د پرمختیا په برخه کې د مرستې لپاره د کړنلارو د بیاکتنې او جهت ورکولو په موخه، یو لړ فرصتونه را منځته کوي. خو، په هېواد کې د ثبات بیا ټینګښت، چې هلته له لسیزو راهیسې جګړې او بې ثباتۍ دوام لري، د ملي او نړیوالو شریکانو په ذهنیت کې، ژور بدلون ته اړتیا لري.

د مرستې هغې کړنلارې ته بېرته ستنېدل، چې د کوویډ ۱۹ ویروس له خپرېدا او بین الافغاني خبرو تر پیلېدو مخکې تري ګټه اخیستل کېدل او د ښو پایلو لپاره انتظار او تمه، د نړیوالو مرستو لپاره مناسب غوراوی او انتخاب نه دی.

د کوویډ ۱۹ ویروس د خپرېدو سره د وقفې را منځته کېدل، د ۲۰۲۰ ز. کال تر پایه د تمویل کوونکو د مالي مرستو د اوسنۍ ژمنو پای ته رسېدل او له طالبانو سره د سولې په اړه د لېدلوري شتوالی یا نه شتوالي، د یو لړ اقداماتو د طرحه کولو په موخه یو بې ساری فرصت رامنځته کړی چې کولی شي، د یوې ښې حکومتولۍ د تجربې په برخه کې یو لړ پایلې او اغېزې رامنځته

کړي. د دغو هڅو کیلي، نوې رامنځته شوې او د افغانستان په مرستو تړلې مدني ټولنې دي.

د خپل حقوقي ځای ځایګی د ترلاسه کولو لپاره د مدني ټولنې ځواکمنتیا، چې په عمل کې یوه ښه حکومتولي ننداري ته کېږدي، د هغې نموني ځخه واټن اخستني ته اړتیا لري، چې په لړ کې د مدني ټولنې سازمانونه د مرستې د ترلاسه کوونکو په توګه، نړیوالې ټولنې ته ځواب ویونکي وي. دغه چاره، د هغو موډلونو معرفی او پیاوړتیا ته اړتیا لري، چې له پورته ځخه ښکته ته د استراتیژیکي ځواب وینې لړۍ ولري؛ په داسې بڼه، چې نړیوال مرستندویان او د دوی د مرستې ترلاسه کوونکو په توګه مدني ټولنې سازمانونه دواړه په ګډه د نهایی ګټه اخستونکو په توګه د عادي وګړو په وړاندې، ځواب ویونکي وي.

د اقداماتو پایښت، دې امر ته اړتیا لري چې په لړ کې یې یو ټاکلی اقدام یا کړنه، د هغو عواملو منعکسوونکي وي، چې له بدلون ځخه ملاتړ کوي او پر هغو عناصرو او عواملو د برلاسي کېدو وړتیا لري، چې د بدلون پر وړاندې مقاومت کوي.

د اقتصادي پرمختیا په برخه کې، د اوږدمهالو اقتصادي – ټولنیزو ګټو د ترلاسه کېدو په موخه، د اقتصادي پیاوړتیا لپاره هڅه، د موجوده، پیاوړې او تولیدي فعالیتونو پیژندلو او تقویه کولو ته اړتیا لري نه هغه کتلوی اقدامات، چې د ناځرګندو مفاهیمو پر بنسټ طرحه شوي دي؛ د بېلګې په توګه په افغانستان کې له «خصوصي سکتور ځخه ملاتړ».

په همدې توګه، له طالبانو سره د سولې د ټینګښت په صورت کې، د دې توافق پایښت او ثبات مالی مرستو ته اړتیا لري کوم چې بیا یوځای کیدنه ګړندي کړي. دا مسئله د هدفي کړنو له لارې د تولیدي اقتصادي فعالیتونو رامنځته کولو لپاره او د جنګیالیو لپاره غیرنظامی انګیزې د تطبیق وړ دي.همدارنګه د ملکي وګړو لپاره باید هڅونې یا مشوقونه په پام کې ونیول شي، ترڅو دوی وکولی شي د ګډو اقتصادي ګټو پراساس په ورته چاپیریال کې تفاهم ته ورسېږي.

دغه لنډیز، د افغانستان د عامه څېړنو موسسې(APPRO) په واسطه د تحقیقی مطالعې پر بنسټ د (Friedrich-Ebert-Stiftung FES) په وړاندیز چمتو شوی دی. د دغه لنډیز او څېړنې موخه، د افغانانو په ځانګړې توګه مدني ټولنې او نړیوالو مرستندویانو ترمنځ، افغانستان ته د مرستې د یوې اوږدمهالې ژمنتیا سره، له فکري بحث ځخه ملاتړ دی.

د دې څېړنې موندنې، د دویم لاس سرچینو د موجوده معلوماتو او په دولت، مدني ټولنې، نادولتي ملي او نړیواله موسسو او مرستندویه ټولنې کې د کلېدي آګاهانو سره د مرکو له لارې د راټولو شویو لومړنیو سرچینو د تحلیل (شننې) په بنسټ، راټولې شوې دي.

## کلیدي موندنې

### د کوویډ ۱۹ اقتصادي اغېزې

- کوویډ ۱۹ له ډېرو اړخونو، جګړې ته ورته اقتصادي پایلې لري؛ لکه د معیشت له لاسه ورکول؛ د لومړنیو توکو د بیو لوړېدل، د کورني عاید د کچې راټیټېدل؛ او پر نړیوالو مرستو دتکیه لړلو زیاتوالی.
- په لوړه کچه، د ۲۰۲۰ ز. کال په لمړی نیمایي کې د نړیوال اقتصادي فعالیت د کچې د راټیټېدو له امله، ناکرنیز اقتصادي شاخصونه، د افغانستان اقتصاد کې د داخلي جوړښتي نیمګړتیاو له امله کم شوي دي.
- په کوچنۍ کچه ، هغه کسان چې د کوویډ ۱۹ بحران له اقتصادي زیانونو خورا اغیزمن شوي له محدودی سرمایې یا پرته له سرمایې وړو او متوسطه شرکتونو په شمول، غیر دولتي سازمانونه، او په غیر رسمي اقتصاد کې د کارګرانو لوی اکثریت،چې له ډلې یې روزمزده کارګران دي.
- په ټولو سطحو او ټولو سکټورونو کې منفعت غوښتونکي کړنې او د فساد پراختیا، احتمالاً د دغه مخ په پراخېدو ویروس سره د مقابلې په برخه کې هڅې او سرچینې غیر تولیدي او ویجاړونکي اقتصادي فعالیتونو ته لارهواروي.
- ټولنیزې شبکې، چې د هغو کورنیو لپاره چې له ناورین سره لاس او ګرېوان دي، د مقابلې اصلي میکانیزم جوړوي، د کوویډ ۱۹ د پراخېدو له امله، تر ډېره د اوږدمهالو اقتصادي ستونزو له کبله، ډېر زیات تر فشار لاندې راځي. دغه چاره د دې خطر زیاتوي، چې زیانمونکې او اغېزمن شوي کسان، د قدرت خاوندانو متعصبانه شبکو ته د مرستې د ترلاسه کولو په موخه مخه کړي.
- په اقتصادي فعالیتونو کې د انعطاف منلو په اړه ځنې

شواهد شتون لري، په ځانګړي توګه په کوچني او متوسط تصدیو کې، چې ډیری یې د هېواد په ګډ مېشته مرکزونو کې متمرکز دي. دا کلسترونه، د اعاشې او نفقې له اړخه، دوديزو اصنافو او صنفي انجمنونو کې، بې ساري دي.



د کابل سیند څنډې ته نژدې مرکزي بازار، اپریل ۲۰۲۰ انځور © FES مریم عالمی

## کوویډ ۱۹ ویروس او جنسیتي ډینامیکونه

- ښځې او نجونې تر نورو قشرونو زیات د کویډ ۱۹ له زیانمنتیا سره مخ دي. په داسې حال کې، چې حقونو و په ټولنه کې د ښځو ګډون ته د ښځو لاسرسی کې محدودیتونه د دغه پاڼدامې تر مفاهیمو لوړ دی؛ داسې نښې نښانې موجودې دي، چې له کوویډ سره د مقابلې په موخه بیړني وضعیت کې، د ښځو پر ځانګړو اړتیاوو او په پراخه کچه د جنسیتي برابروالي باندې سترګې پټېږي.
- روغتیایي پاملرنو او معلوماتو ته د ښځو او نجونو د لاسرسي ټیټه کچه، د کرونا ویروس درملنه د هغوی لپاره محدودي. ښځې او نجونې په کورنۍ کې تر تکفل لاندې وګړو د اصلي پاملرونکو او مراقبت کوونکو په توګه، د کرونا ویروس په وړاندې تر ټولو ډېر زیانمنوونکې دي.
- جنسیتي تبعیض او بدګوماني یا نرواکي ، په داسې حالاتو کې چې د قربانیانو لپاره محافظتي خدماتو ته لاسرسی محدود دی، جنسي تاوتریخوالي او ناوړه ګټه اخیستنې ته لاره هواروي. د مېرمنو ډېرى سازمانونه چې د ټولنیزو خدماتو په ډګر کې د مېرمنو او ماشومانو لپاره کار کوي د کوویډ ناروغۍ له امله د دوی د فعالیتونو تعلیق راپور ورکوي.



یوه ښځه له خپل ماشومانو سره د هرات ولایت پر سړکونو د ګدايۍ پرمهال، اپریل ۲۰۲۰ ز. کال ، انځور: © FES محمد عارف کریم

## کووید ۱۹ ویروس او ټولنیز انسجام

- داسې ښکاري، چې د ټولنې په کچه حمایتي او د مرستې شبکې، پر خپل حال پاتې شوي دي. دغو شبکو کې، د کورنیو او خپلوانو پراخه شبکې، له محلي څخه ملاتړ او په دوديزه توګه زیانمنونکو ګاونډیانو سره د بډایو غړو له خوا مرستې شاملېږي. په ښاري مرکزونو کې، د دغه ټول شموله ناروغۍ د خپرېدو سره په غبرګون کې، د ټولنیزو رسنیو له لارې، د ټولنیز بسیج نوې لارې چارې ترسترګو کېږي. د دغو شبکو اغېزناکتوب او ساحه متفاوته او متغیره ده.
- په ملي کچه، اړونده ادارې، د دغه ویروس د مخنیوي په برخه کې، د سرچینو د لګولو په تړاو، لږ ځواب ویونکې دي. عام خلک، د اړونده ادارو چارواکو ته په داسې نظر ګوري، چې د دې پرځای، چې د عامه ګټو په برخه کې کار وکړي، د خپلو شخصي ګټو لپاره هلې ځلې کوي.
- د دولت پر وړتیا او مشروعیت د خلکو د کمزوری اعتماد او باور کچه، کوویډ ۱۹ ته د رسېدنې لپاره د په پام کې نیول شویو سرچینو په تړاو د ناوړه ګټه اخیستنې د راپورونو په خپرېدو سره، نوره هم ټیټه شوې ده.
- د کوویډ ۱۹ په وړاندې د مبارزې لپاره د سرچینو د ناسمه استعمال راپورونو په ځواب کې د حکومت په وړتیا او مشروعیت باندې نسبتا ضعیف باور نور هم کمزوری شوی ده.



د مدني ټولنې فعالان د ماسکونو د وېش پرمهال، اپریل ۲۰۲۰ ، انځور: محمدعارف کر یم

## کوویډ ۱۹ویروس او نادولتي موسسې

- کوویډ ۱۹، د ملي نادولتي موسسو لپاره بې ساري عملیاتي، تخنیکي، مالي او امنیتي ننګونې رامنځته کړې دي.
- سیمه ییزې نادولتي موسسې، د پاندمي شرایطو سره د خپلو فعالیتونو د سمونتیا او د دغه کار لپاره د اړتیا وړ سرچینو د موندلو په برخه کې، له یو شمېر ننګونو سره د مخ شوې دي.
- نا دولتي سازمانونه چې په مستقیمه توګه یې سیمه ییزو ټولنو ته مرسته کوله، په فزیکي تعامل کې محدودیت د دې لامل شوی چې په ټولنه کې د هغوی ځای ځایګی ضعیفه یا پیکه شي.
- په افغانستان کې زیاتره نادولتي موسسې د مرستندویانو پر مرستو تړلي دي. پر هغو نادولتي موسسو د نړیوالو مرستو تمرکز، چې د فعالیت پر بنسټ بودجو سره همغږي شوي، د فعالیتونو په ترسره کولو کې پاتې راتلل، په دې مانا ده، چې عملیاتي وجوهو ته خپل لاسرسی له لاسه ورکوي.
- د د سرچینو په اړه د نادولتي مؤسسو تر منځ سیالي لا زیاته شوې چې د نړیوالې مرستې د کمېدو په اړه اندېښنې لري. د نادولتي مؤسسو تر منځ شدیده سیالي د دې لامل ګرځي د هغه هڅو او همکاریو مخه نیسي چې د افغانانو تر منځ د سولې په خبرو کې برخه اخیستونکو ته د غږونو رسولو کې همکاري کوي.

## د کوویډ ۱۹ ویروس وروسته د دولت-مدني ټولنې اړیکې

- دغه ناورین، د کوویډ ۱۹ ویروس د اغیزو له امله، داخلي سیاسي شخړې او د سولې بین الافغاني خبرو پیل، د دولت او مدني ټولنې ترمنځ واټن روښانه کړی، حکومت پریکړې کوي او د مدني ټولنې سازمانونه تر ډیره اعتراض کوي.
- دولت، د دغه ویروس سره د مقابلې په تړاو د خپلو اړوندو اقداماتو په اړه اړوند معلوماتو شریکولو ته تمایل نه لري.




د فساد ضد اخلاق «د تدارکاتو پیسې ستاسې پیسې دي، د فاسدو کسانو لاسونه لنډ کړئ »، کابل، ۲۰۱۸، اوریان زیره

## کوویډ ۱۹ ویروس او د جګړې اقتصاد

- افغانستان په بشپړه توګه د جګړې د اقتصاد له محدودې نه دی بهر شوی. د بشري پانګې او لوی اقتصاد د مدیریت په برخه کې یو لړ پرمختګونه ترلاسه شوي دي. همدارنګه سیستماتیکه منفعت غوښتنه شتون لري، چې د کېپتوکراتیکو (شخصي ګټو) او نیپوتیزم (خویش خوری) شبکو له لارې کار کوي؛ د حکومتولي موازي جوړښتونه، د ډېر عاید لرونکو ناقانونه اقتصادي فعالیتونو په اداره کې د دولت وړتیا له ننګونو سره مخ او کمزوری کوي.
- د هغو کسانو لپاره د جګړې دوام تر سیاسي ثبات ډېر ګټور دي، چې د جګړو له دوام ځخه ګټې ترلاسه کوي.
- د جګړو، نشه یي توکو او نورو جرمي فعالیتونو زېږنده معیشت د ځایناستې په موخه، د مجازو عایداتي سرچینو لپاره د یو روښانه لیدلوري پرته، د جنګیالیو د ادغام مسله، له اندېښنو ډکه چاره ده.

## کوویډ ۱۹ویروس او بین الافغاني مذاکرات

- د کوید ۱۹ ویروس، د سولې د بین الافغاني خبرو اترو د شرایطو پیچلتیا لا ژوره کړې ده.
- متحده ایالات په کوردننه له زیاتو ننګونو لکه د کوید ۱۹ ویروس معظل ته رسېدنه او سیاسي ناورین سره مخ دی. په ورته وخت کې، له طالبانو سره د سولې خبرو اترو کې د پام وړ نفوذ او رول لري. د امریکایي سرتیرو له ټاکل شوي مهالویش څخه مخکې وتل د کرونا ویروس ناسم مدیریت لپاره د تاوان ورکولو د یوې وسیلې په توګه او د تاکتیزو موخو لپاره، له طالبانو سره د سولې عادلانه هوکړې ته د رسېدو په خاطر د افغانستان لپاره یو نه کنټرول کېدونکې ګواښ رامنځته کوي.



انځور: اوریان زیره

## په نړیوال غبرګون خواب وینه: په مخکې تګ (د راتلونکې پر لوري)

- د سولې د خبرو پایلې له په پام کې نیولو پرته، نړیوال مرستندویان به د افغانستان د حکومتولې په برخه کې د اصلي لوبغاړو په توګه پاتې شي او د هغوی مالي پرېکړې او اقدامات به د هېواد کچې پر جوړښتونو او فعالیتونو، د نادولتي موسسو پر کړنو او د وګړو پر شرایطو اغېزه ولري.
- د جګړې په دواړو لورو کې نړیوالو مرستو ته د اړتیا د درک په صورت کې، نړیوال مرستندویان، د سولې اجنډا د ټاکلو او په پایله کې، د وګړو د بنسټیزو حقونو په تړاو د روښانه مقرراتو لپاره د بلنې په برخه کې،له خاص نفوذ څخه برخمن دي.
- په هرصورت، د کرونا ویروس نړیوالې اغېزې، له افغانستان څخه د مالي ملاتړ په برخه کې، د نړیوالو مرستندویانو پر ورتیا زیات فشار وارد کړی دی.

دغه چاره، د پرمختیایي پروګرامونو او بشري مرستو د راتلونکې په اړه او دا چې د دغو مرستو کومې لارې چارې او بېلګې کولی شي تر بیاکتنې لاندې راشي، مهمې پوښتنې منځته کوي، ترڅو پر اغېزې او ثبات تمرکز وشي.

## د راتلونکې پر لور

هغه څه چې په اوسنیو شرایطو کې کولی شي، د تصمیم نیونې پر پروسه اغېزه وکړي، د بېلو کارونو د ترسره کولو په پرتله، د ښو کارونو د ترسره کولو په تړاو عیني درک او سوچ دی. په اوسنیو شرایطو کې، د جګړې دوام، د سولې د ټینګښت لپاره هڅه، په مرستو پورې د افغانستان دولت او نادولتي فعالانو تړتیا او له مخکې کمزوري شوي سازماني او جوړښتیزو شرایطو باندې د کرونا ویروس بې ساری فشار، په دې برخه کې عمده عوامل ګڼل کېږي. د دغو عواملو ترکیب، شته فساد، د ښځو په وړاندې ناسم لېد شتوالی، چې په ټولنه کې ربښه لري، د چاپېریال تخریب او د اقلیمي بدلون زیږنده ګواښونه دي، چې د کورنې بېځایه کېدو لپاره اصلي لامل ګڼل کېږي. له دغو عمده او له یو بل سره تړلو عواملو سره په مخامخ کېدو سره، هېڅ داخلي او بهرني ذینفع لوري نه شي کولی، چې د تېر په څېر خپلو کارونو ته دوام ورکړي او ښې پایلې ترلاسه کړي.

د نړیوالو ذینفعانو په ذهنیت کې یو عمده بدلون او تغییر اړتیا شته، ترڅو د مرستې له پخوانیو کړنلارو او د څواب ویني له ښکته پورته موډولونو څخه، له پورته ښکتې کړنلارو او بېلګو ته بدلون وموموي؛ په داسې بڼه، چې اقدامات د هغو کسانو له عملي تجربو او اړتیاو سره سمون وخوري، چې د دې هدف دي، چې ورسره مرسته وشي او په اغېزناک ډول تغییر وکړي.

له ستونزې سره د مخ کېدو او د سولې خبرو او د کویډ ۱۹ سره د مبارزې پورې اړوندو برخو کې د یوې هراړخیزې، رڼې او ځواب ویونکې حکومتولې د یوې کړنلارې د پلټابه په برخه کې د حکومت د نه لېوالتیا د شتوالي په صورت کې، د مدني ټولنې شتون یوه اړینه چاره ده او نړیوال مرستندویان چې له هغوی څخه ملاتړ کوي، په دې برخه کې ښه فرصت لري، ترڅو نوي شیان ترسره او ښې پایلې ترلاسه کړي. په دې برخه کې باید لاندې موخې ترلاسه شي:

۱. د کوویډ ۱۹ له ناورین او سولې خبرو اترو روان بهیر څخه باید د یوې ښې حکومتولی د رامنځته کولو او د عامه مرستې او پالیسې جوړونې په برخه کې کار واخېستل شي.
۲. په افغانستان کې د نړیوالو مرستو لپاره نوي کړنلارې او لومړیتوبونه، باید تر بین الافغاني خبرو اترو او د کوویډ ۱۹ ویروس تر خپرېدا، لوړه کچه کې په پام کې ونیول شي.
۳. له اغیزمن او تولیدی اقتصادی فعالیتونو څخه ملاتړ وشي.
٤. مدني ټولنه، د خپل اوسني رول څخه هاخوا، د سیمه ایزو همکارانو په توګه، په حکومتداری کې د شریکانو او ذینفعانو په توګه، ځواکمن شي.

د دغو موخو ترلاسه کېدل، په لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله توګه، لاندې پوښتنو ته د ښې رسېدنې د څرنګوالي په اړه، د ډیالوګ د ترلاس لاندې نیولو لپاره، د هڅې غوښتونکي دي:

## لنډمهال

۱. د فساد له دوام، د نړواکي سازماني جوړښت او ټولنیز پیوستون له شتوالي سره سره، له کویډ ۱۹ سره د مقابلې په هدف نړیوالې مرستې څرنګه کولی شي، د افغانانو فوري او متنوعې اړتیاوو ته ځواب ووایې او هغو ته رسېدنه وکړي؟
۲. د فساد له دوام، د نړواکي سازماني جوړښت او ټولنیز تشتت له شتوالي سره سره، د سولې روان بهیر کې، څرنګه کولی شي، د افغانانو فوري او متنوعې اړتیاوو ته ځواب ووایې او هغو ته رسېدنه وکړي؟
۳. د کوویډ ۱۹ او د سولې پروسې پورې اړوندو اقداماتو کې، د هدفی مرستو کوم ترکیب وي،د بودیجې او غیر بودیجې تمویل څخه د ځواړخیز میکانیزم له لارې (لکه دARTF افغانستان د بیارغونې وجهی صندوق) تر نادولتي ملي ادارو مستقیمه بودجې پورې.

## منځمهاله

۱. د سولې تړون له افغانستان سره د نړیوالو مرستو د تمویل پرڅرنګوالي څرنګه اغېزه کوي؟
۲. په ځانګړې توګه:
   أ. له طالبانو سره د سولې تړون په صورت کې، په لنډ مهال کې د نړیوالو مرستو پریکړې به څه ډول په اوږد مهال کې د مرستو لامل شي؟
   ب. له طالبانو سره د سولې تړون د نه ترسره کېدو په صورت کې، د لنډمهاله مرستو پریکړې به څنګه د اوږد مهالې مرستې لامل شي؟

## اوږدمهاله

۱. په افغانستان کې د تلپاتې سولې لپاره مناسبو شرایطو رامنځته کولو په موخه، د معلوماتو، همغږیو او همکاریو د شریکولو له لارې، د پرمختیا په برخه کې د شریکانو ترمنځ څرنګه اړیکې کولی شي، اغېزناک او ګټور وي؟
۲. څه شی کېدی شي چې تمرکز له لوړ حساب ورکونې څخه ښکته ستراتیژیک حساب ورکونې ته واړوئ؟

---

د پوښ انځور- په کابل ښار کې د کار لپاره منتظر روزمزد کارګران، د ۲۰۲۰ ز.کال، اپریل میاشت، انځور د مریم عالمي

د فریدریش ایرت ټولنه د لیکلې هوکړې پرته، د دغه کتاب څخه هرراز سوداګریزه ګټه اخېستنه منع ده

هغه موضوعات چې په دغه کتاب کې خپور شوي، د فریدریش ایرت ټولنه نظریې نه منعکسوي

Friedrich Ebert-Stiftung (FES) Afghanistan 2020 ©
Website: www.afghanistan.fes.de